## تخنیک او مسلک ته څومره اړتیا ده؟

**امین وردګ**

مخکښې لـه دې چـې اصـلي مو ضوع تـه ورشـو، ښـه بـهٔ دا وي چـې لـومړی د علـم معنـوي تعریـف وکـړو بیـا د همدغـهٔ تعریـف پـر اسـاس معلـم او مـتعلم و پیژنـو او لـه هغـهٔ وروسـته پـهٔ ټولنـه کـې د علـماؤ او معلمینـو مسـئولیت پـهٔ نښـه کړو او بیا دا وڅېړو چې دوی څېل مسئولیت تر کومې کچې اداء کړی دی او یا یې اداء کوي.

د علم معنوي تعریف: علم هغه معنوي څواک دی چې انسان له ذلالت څخه د سعادت پر خوا رهبري کوي.

نـو پـاس تعریـف تـه پـهٔ کتـو! مـوږ داسـې ویلـی شـو: هـر هغـه علـم چـې انسـان لـه ذلالـت څخـه د سـعادت پـر خـوا رهـبري کـوي لازمـې او ضروري دی! خـو دا چـې لازمـې او ضروري څـهٔ تـه وایـې؟ د دې پوښـتنې لپـاره اسـلام قـوانین و ضع کـړي او قـانوني څـواب یـې ویلـی دی، چـې هغـه پـهٔ څلـورو برخـو وېشـل شـوي (فـرض، واجـب، سـنت، مسـتحب) دا چـې بحـث ډېـر اوږد او مغلـق نـهٔ شي، نـو راځـو او پـهٔ آسـانه توګـه یـې داسـې تفسـیروو: کـوم عمـل چـې فـرض وي، نـو د هغـهٔ عمـل د تـرسره کـوونې اړونـد چـې کـوم وسـائل یـا وسـائط کـاریږي د هغـوی تیـارول او برابـرول هـم فـرض دي (مانـا دا چـې کـهٔ آسـانه ترلاسـه کیـږي خـو ښـه ده، کـهٔ نـه نـو اختراعـات او جـوړول یـې فـرض دي؛ لکـه د جهـادی پـهٔ برخـه کـې امـوال، انفـوس، قـوه، ربـاط الخیـل او...) کـوم چـې واجـب وي واجـب، چـې سـنت وي سـنت او چـې مسـتحب وي نـو لـوازم، شرائـط او ارکـان یـې ټـول مسـتحب دي او دا یـوه کـلي قاعـده ده! راځـو بېلګـې تـه یـې؛ لمـونځ فـرض دی، خـو د لمانځـهٔ لپـاره ټـول هغـه شـیان هـم فـرض دي چـې لمـونځ وربانـدې تکمیلیـږي! لکـه وخـت، اودس، اسـتقبال القبلـة او داسـې نـور... اوس پـوه شـوئ چـې د فـرض عملیـې د تـرسره کولـو لپـاره ټـول هغـه شـیان هـم فـرض دي چـې یـاده عملیـه وربانـدې تکمیلیـږي؟ مطلـب دا قاعـده خامخـا زده کړئ چې هر ځای اړتیا ورته پیدا کیږي.

اوس راځـئ چـې پـدې هکلـه یـوه بېلګـه ایـزه کیسـه درتـه وکـړم: د تېـر شـل کلـن جهـاد پـهٔ وخـت کـې چـې د امریکـا پـهٔ مشرـی نـاټو غـړو هېوادونـو زمـوږ د زړهٔ سر (افغانسـتان) اشـغال کـړی ؤ، نـو د وردګـو پـهٔ سـاحه کـې د مجاهـدینو کـومې ډلـې د اشـغالګرې نـاټو پـر لوژیسـتیکي کـاروان بریـد کـړی او د مخـې مـوټران یـې ور ویشـتلي دي، پـهٔ دغـهٔ وخـت کـې د کـاروان سـاتونکي او موټروانـان لـه شـدیدې وېـرې څخـه ټـول شـا تـه تښـتېدلي، خـو کلـه چـې مجاهـدین سرک تـه خـتلي، نـو دا امکـان خـو هغـه مهـال بلکـل نـهٔ ؤ چـې لـه تېلـو ډک مـوټر دې غنیمـت کـړي او لـه ځـانو سره یـې دې بـوزي؛ ځکـه چـې دا د جهـاد لـومړنی شـېې ورځـې وې او مجاهـدینو بـهٔ لـه ځـانو سره پـر تېلـو بـار لاری نشـوای بېـولای، ځکـه خـو بـهٔ یـې اورونـه ور اچـول، تـر څـو دښـمن تـه پـهٔ اقتصـادي توګـه هـم ضربـه ورکـړي، خـو دا چـې کلـه همغـه سرکښ او زړور مجاهـد پـهٔ لـومړي ځـل ور رسـېدلی، نـو پـر مـوټرو یـې تېـل اچـولی او غـواړي اور ور کـړي، خـو پـهٔ جیـب کـې یـې د اور لګـوونې لپـاره هـېڅ هـم نشـته! لکـه اورلګیـت، لایـتر او داسـې نـور...! نـو یـې بـل مجاهـد ملګـري تـه نـارې کـړې چـې قـوتی راوړه مـوټرو تـه اور اچـوم! هغـهٔ ورتـه ویـلي چـې قـوتی خـو لـه مـاسره هـم نشـته! همداسـې یـې بـل او پسـې بـل ملګـري تـه نـارې کـړي، خـو لـه یـوهٔ سره هـم اورلګیـت یـا قـوتی

نشته چې د تېلو کاروان ته اور واچوي، ځکه خو ټولو لاسونه مروړلي او افسوس یې کړی چې ولې به مو له ځانو سره اورلګیت نهٔ راوړ؟! پهٔ همدغه وخت کې یوهٔ مجاهد د ټوکې پهٔ توګه ویلي چې ای کاش! یو ملګری خو پهٔ موږ کې سیګریټي هم وای؛ لږ تر لږه خو بهٔ یې اورلګیت لرلو! نو همدغه نکته موږ ته ژور درس راکوي چې پهٔ داسې اوقاتو کې سنګر ته اورلګیت وړل هم فرض دي او کهٔ تیار نهٔ وي نو جوړول یې هم فرض.

اوس پوه شوئ چې فرض علم کوم دی او مباح کوم؟! د پنځو افغانیو اورلګیت د نشتون له امله اشغالګر دښمن څومره ګټې وکړې! لومړی خو دا چې شاوخوا دېرش موټر یې له سوَن یا سوخت څخه وژغول شول چې کهٔ د هر یوهٔ اوسط قیمت څلور میلیونه افغانۍ فرض کړو، نو مجموعي قیمت یې کیږي (۱۲۰۰۰۰۰۰۰) یو سل شل میلینونه افغانۍ او که پهٔ هر یوه کې شل زره لیټره تېل فرض کړو، نو ټول تېل کیږي شپږ میلیونه لیټره، خو چې د تېلو او موټرو قیمت سره جمعه کړو، نو مجموعاً (۱۶۰۰۰۰۰۰۰) یوسل شپېتهٔ میلیونه افغانۍ کیږي؛ ګواکي یوسل شل میلیونه افغانۍ یوازې د (۵) پنځو افغانیو د وسیلې د نشتون له امله د مجاهد له لاسه ووتې او دښمن ته حواله شوې! دا خو یوازې ابتدایي مالي زیان ؤ چې مجاهد ته واوښت، اوس نو چې دا تېل لاړل او بیا پهٔ الوتکو او ټانګونو کې واچول شول، له هغهٔ وروسته یې له امله د مسلمانانو کورونه وران شول؛ ګڼې خویندې کونډې او ګڼ شمېر ماشومان یتیمان شول، فصلونه خراب شول، محیط زیست ته زیان واوښت او... دا یې بیا بل اړخ دی! همداراز چې دغه سرتیري مجاهدین له څومره ډېرو ستونزمنو لارو را تېر شول او تر دغهٔ ځایه را ورسېدل! دا یې بل اړخ دی، بل دا چې کهٔ الله پاک کوم یو له دوی څخه ونیسي ـ! چې ګواکي ولې دې اورلګیت له ځان سره نهٔ ؤ وړی؟ دا یې بیا پسې بل اړخ! مطلب ټول زیانونونه د یوې وړوکې کمیاوي وسیلې د نشتون له امله رامنځته شول چې قیمت یې یوازې پنځهٔ افغانۍ ؤ؛ یانې (ریاضي، کیمیا او فزیک) پهٔ ګډه جوړه کړې وسیله وه چې عامل د جوړېدو یې د بشر ـ اړتیا او جوړونکی یې یو ساینسي ـ عالم ؤ.

الله پاک دې وکړي چې زما پهٔ خبرو پوه شوي واست!!!

نتیجه دا شوه چې تخنیکي او مسلکي زده کړې هم فرض دي، هم واجبې دي، هم سنت دي او هم مستحبې؛ نور نو تاسو تحقیق پکې وکړئ چې کومې یې فرض دي... او کومې مستحبې... او چې کله مو سر پرې خلاص شو نو بیا دې ځوانان خامخا دا زده کړې وکړي او مشران دې هم د همدغو زده کړو پوره حمایه وکړي، مطلب دا یو تجارتي اعلان نه بلکې یوه اړتیا وه! نو ((د تخنیکي او مسلکي زده کړو اداره)) مو کلکه پهٔ خدمت کې ده او پرته له کوم مالي لګښت څخه ستاسو ځوانانو ته تعلیم درکوي ان شاءالله، چې همدا مهال پهٔ (۱۰) سکتورونو کې (۳۵۸) فعال تعلیمي مراکز لري او شاوخوا (۹۰ زره) کسان زده کړې پکې کوي، چې له دغو زده کړو څخه سږ کال حدوداً (۴۰۰۰۰) یوازې مجاهدین فارغ شول.